سپېځلي کردارونه

# جرنېل میا

اداره

جرنېل میا چې خپل نوم ئې عطاءالدین ؤ، د زیارت کاکاصاحب کاجي خېل محله کښې کال ۱۱-۱۹۱۰ په منبځ کښې د میا زېن العابدین کاکاخېل په کور کښې پېدا شوے ؤ.

وړومبے تعلیم ئې د کلي په پرائمري سکول، نوښار سناتن دهرم هائي سکول او اسلامیه هائي سکول نوښار کښې کړے دے. دۀ څۀ وخت د نوښار په مدرسه نصرة الاسلام کښې هم زدکړه کړې وه. دے لا د سکول طالب علم ؤ چې د خلافت تحریک شروع شو، دغه وخت د دوي یو عزیز کاکاخېل میا حمیدګل چې د پېرنګیانو د سروې په محکمه کښې کپتان ؤ او د هغوي ډېر خوښ او قابل افسر ؤ، دۀ استعفٰي ورکړه او په خلافت کمېټۍ کښې شامل شو چې قوم ورته د فخر قوم خطاب ورکړو. دغه ځان له قیصه ده چې میا حمیدګل د آزادۍ په تحریک کښې څومره سختۍ، تکلیفونه او جېلونه وزغمل خو د دۀ د کردار نه عطاءالدین هم دومره متاثره شو چې په خلافت تحریک کښې سرګرم غړے شو او هرې جلسې او جلوس له ئې تلل شروع کړل. تعلیم خو ئې نیمګړے



پاتې شو او په سیاست او د قوم د حق په آواز وچتولو کښې ډېر وړاندې لاړو.

دا د ۱۹۲۷ واقعه ده چې تیراه کښې د شیعه سني فسادات راپېدا کړے شوي وو، د زیارت کاکا صاحب میاګانو د دې په هوارولو کښې پوره پوره کوششونه کول، په دغه ورځو کښې دۀ په زمیندار اخبار کښې د "فساد تیراه" د عنوان لاندې یو مضمون ولیکلو چې پېرنګیانو پرې سخت نوټس واخستو، دۀ په هغو ورځو کښې د نوښار په پټوار ټرېننګ سکول کښې زدکړه کوله. په دغه مضمون دے فوراً ډپټي کمشنر مټکاف وغوښتلو، دے د خپلو ورونو سره اول د اسسټنټ کمشنر بنګلې ته ورغے، هغۀ په نرمۍ پوهه کړو او ورته ئې ووئیل چې فلاني تاریخ ته د ډپټي کمشنر بنګله کښې هغۀ ته پېش شه. هغۀ سره ئې نرمې ګرمې خبرې وشوې او هغۀ هم ورته دړکه ورکړه چې آئنده د حکومت خلاف لیکل مۀ کوه او د حکومت بدنامي مۀ کوه. دوي چې واپس راتلل نو په یوه ټانګه کښې باچا خان او امین الله خان دوي پسې راروان وو، دوي ئې ځان سره کړل. دۀ باچا خان ته ټوله قیصه وکړه، هغه

وخت لا د خدائي خدمتګار تحريک نۀ ؤ شروع شوے. باچا خان آزاد سکولونه چلول او ځان له ئې هم خيال ملګري پيدا کول.

څۀ موده وروستو د امتحان پاس کولو نه پس دے پنډۍ کښې ؤ او اختر له کلي ته راغلے ؤ، د اختر په دوېمه دے د نوښار مېلې ته تلے ؤ چې هلته ئې باچا خان وليدو چې سره د ډول سُرنا راروان دي او بيا ئې په چوک کښې تقرير شروع کړو.

په خدائي خدمتګار تحريک کښې شاملېدل شروع شول، خو دے په خپله هغه وخت خدائي خدمتګار نۀ ؤ، بيا چې کله د قصه خوانۍ واقعه کېده نو دے د ډېوټۍ په سلسله کښې په مري کښې ؤ، فوراً راغے د فخر قوم ميا حميدګل سره ئې خدائي خدمتګار تحريک کښې برخه واخسته او په تېزۍ سره ئې کار شروع کړو او خدائي خدمتګار تحريک کښې د خپلې سيمې د جرنېل په عهده ئې هلې ځلې شروع کړې. دوي په زرګونو خلق په تحريک کښې شامل کړل او هغه وخت چې په جلسو او جلوسونو سخته پابندي وه، دوي په زيارت کاکاصاحب کښې يوه لويه جلسه وکړه چې په لکونو خلق پکښې شامل وو، دغه وخت خان بهادر دلاورخان د نوښار اسسټنټ کمشنر ؤ، هغۀ ډپټي کمشنر پوهه کړو چې په دوي هېڅ غرض مۀ ساتئ، کۀ پلټن لېږو معامله خرابېږي، دوي د قصه خوانۍ واقعې سخت ويرولي وو نو دغه جلسې ته ئې څۀ ونۀ وئيل، دا جلسه ماسخوتن نهۀ بجې شروع شوه او سحر شپږو بجو پورې جاري وه چې په خصوصي توګه پکښې د مولانا ګلاب صېب تقرير خلق ډېر جذباتي کړل. دې جلسه کښې نورې جلسې بهادر بابا، مست بابا او غالب ګل بابا دربارونو کښې مقرر شوې او څلورمه جلسه په سپاوې کوهې علاقه کښې مقرره شوه. دغه څلور جلسې د مولانا ګلاب او ميا عارف ګل حاجي په مشرۍ کښې د جرنېل ميا په انتظام ډېرې په شان شوکت سر ته ورسېدې. دغه ورځو کښې پېرنګيان ويرې واخستل او تکړ، هاتي خېلو کښې په خلقو ګولۍ وچلېدې. د دې نه پس پکټنګونه شروع شو او حالات ډېر خراب شو. په دغه وخت کښې د ميا جعفر شاه په وېنا الله بخش يوسفي چې د خلافت کمېټۍ سېکرټري او زوړ کارکن ؤ، يو کتاب د "فرنټئير ټريجډي" په نوم چاپ کړو. د دې کتاب کاپۍ جعفر شاه او د ډاکټر خان صېب ښځې ميم صاحبې د دنيا ګوټ ګوټ ته ورسولې، تر دې چې حاجيانو ځان سره يوړې او د حج په موقعه ئې په خلقو تقسيم کړې او د پېرنګيانو دا ظلم ئې دنيا ته ښکاره کړو، وروستو بيا په دغه کتاب پابندي ولګېده او خلاف قانون وګرځولے شو.

اکتوبر، نومبر ۱۹۳۱ کښې جرنېل ميا د باچا خان او نورو ملګرو سره د هزارې تفصيلي دوره وکړه. د دورې په دوران کښې د ايبټ اباد ډپټي کمشنر د دوي د ګرفتارۍ حکم هم ورکړو خو چې کله باچا خان سره د ټولو خلقو د ډپټي کمشنر بنګلې ته لاړل نو په هغۀ هيبت راغے او د ويرې نه ئې وئيل چې ما د ګرفتارۍ حکم نۀ دے ورکړے. بيا د کېمبل پور په ضلع کښې پوليس په دوي تشدد هم وکړو او ډېر خلق ئې د ټوپکو په سنګينونو زخميان کړل.

د دې نه وروستو دوي د نوښار دوره وکړه او بيا د هغې نه پس د خدائي خدمتګارو ګرفتارۍ

شروع شوې. جرنیل میا هم ګرفتار کړے شو او د هري پور جېل کښې بندي شو.

د ۱۹۳۵ الېکشن کښې خدائي خدمتګار تحریک د دۀ نوم د الېکشن دپاره خوښ کړو، ډاکټر خان صېب او ارباب عبدالغفور دواړه په دۀ پسې لاړل خو دۀ معذرت وکړو او د ځان په ځائے ئې د میا جعفر شاه نوم وړاندې کړو چې وروستو ئې دغه سیټ وګټلو.

د هندوستان د وېش نه مخکښې چې دلته تش په نوم کوم ریفرنډم شوے ؤ، د هغې په حقله جرنېل میا ډېر اهم معلومات لري او د دې خبرو په خپله ګواه دے. ټول حال ئې په خپلو سترګو لیدلے دے چې څنګه پېرنګیان د مسلم لیګ په حق کښې او د کانګرس او خدائي خدمتګارو خلاف وو.

دے وائي چې پښتونخوا کښې د مسلم لیګ اکثر کمېټۍ پېرنګیانو جوړې کړې وې، د نوښار د اسسټنټ کمشنر تهامسن په حقله وائي چې دے به هره شپه د فتح محمد خان وکیل بنګلې ته تلو او د کانګرس د وزارت خلاف به ئې خلق سول نافرمانۍ ته تیارول او د دې دپاره به ئې مختلفې منصوبې جوړولې او چې کله د کانګرس وزارت خلاف مسلم لیګیانو سول نافرماني شروع کړه او په دې غرض فتح محمد خان کچرۍ ته راغے نو اسسټنټ کمشنر مسټر تهامسن ورته د عدالت د کمرې نه بهر راووتو او د ګلونو هار ئې ورته واچولو. دے وائي چې ما ترې نه تپوس وکړو چې دومره سمدستي دې دا ګلونو امېل له کومه پېدا کړو، دا خو لکه چې تا ته معلومه وه او د فتح محمد خان په انتظار وې نو دۀ وخندل وې ئې مونږه خو هسې هم روان یو څوک خو به راځي چې اختیار ورته پرېږدو، یعنې چې خدائي خدمتګارو به سول نافرماني کوله نو دوي به ورته سنګینونه نېغ کړي وو او ګولۍ به ئې پرې چلولې او اوس مسلم لګیانو ته د ګلونو امېلونه په غاړه کوي.

بله واقعه د هزارې د تحصیل مانسهرې د پکلۍ کلي بیانوي وائي چې د هغه ځائے انګرېز اسسټنټ کمشنر به د خان بهادر غلام رباني خان سره کلي په کلي ګرځېدو او خلقو ته به ئې وئیل چې کانګرس او خدائي خدمتګار مو تباه کوي، اې مسلمانانو بېدار شئ او مسلم لیګ کښې شامل شئ.

دۀ هغه واقعات هم په خپلو سترګو لیدلي دي او د هغې ګواه دے چې دلته د هندوانو او سکهانو لوټ مار ټولو مسلم لیګیانو د یوې باقاعده منصوبې لاندې کړے دے. وائي چې د هندوانو یو وفد ما ته راغے چې زمونږ ستاسو سره غم ښادي شریکه ده، مونږ دا خپل کور کلے نۀ پرېږدو او چې دلته د هندوستان نه څومره هم مسلمانان مهاجر ورونه راځي د ټولو دپاره به د کورونو او خوراک څښاک بندوبست هم مونږ کوو، دۀ دغه کسان د پیر صاحب مانکي له بوتلل چې د هغۀ نه رایه واخلي. پیر صېب دا خبره ډېره خوښه کړه او د پولیسو د یو افسر ګلزار حسېن سره ئې خبره وکړه، ګلزار حسېن د عبدالقیوم خان سړے ؤ، پیر صېب ته ئې وئیل چې د حکومت سکیم بدل دے، په دې کارونو کښې مداخلت مۀ کوه، ګني حکومت به ستا خلاف شي او ځان ته به مشکلات پېدا کړے او د دې خبرې په دوېمه ورځ مسلم لیګیانو د سکهانو او هندوانو لوټ مار شروع کړو چې د ګلزار حسېن ورسره پوره پوره لاس ؤ. د دې لوټ مار خلاف خدائي خدمتګارو د هندوانو او سکهانو مرسته کوله او هغوي به ئې د قتل کېدو نه بچ کول او محفوظو ځایونو ته به ئې رسول. په دې وجه د دوي ګرفتارۍ

شروع شوې او جرنېل میا پکښې هم گرفتار شو او پېښور جېل ته راوستے شو، چې څۀ موده پس بیا آزاد کړے شو.

د پښتون قام د حقونو دپاره د جرنېل میا صاحب دا هلې ځلې د پاکستان د جوړېدو نه پس هم د هغۀ تر مرګه (وړومبي اپرېل ۱۹۸۵) پورې جارې وې. الله دې وبخښي او د هغې جهان خوشحالۍ دې نصیب کړي. آمین.